# دهقان

هفته‌نامه

هفته‌نامه دهقان ▪ شماره یکصدوسی‌ویکم ▪ شنبه ▪ ۹حوت ▪ ۱۳۹۹




**پیاز وطن، هم غذا هم دارو**

۷



## دکرنې وزیر په افغانستان کې د خوړو نړیوال پروګرام«WFP» مشرې سره، د احتمالي وچکالي د زیانونو پر رسېدنه خبرې وکړې

۳



**کشت شالی با شیوه قطاری حاصلات دهقانان را به شکل چشم‌گیر افزایش داده است**

۴



**زنان توان‌مند در زراعت: دهقانانی که دسترخوان‌شان را رنگین می‌کنند**

۳




**د کب نهمه، د امنیتي او دفاعي ځواکونو د ملاتړ ملي ورځ مو مبارک**

نن شنبې د کب نهمه، د امنیتي او دفاعي ځواکونو د ملاتړ ملي ورځ دی.
د هېواد امنیتي او دفاعي ځواکونو هېوادوالو لپاره تر ټولو سخت او له وياړه ډک چوپړتیاوې وړاندې کوي. د دوی نه ستړې کېدونکې هلې ځلې دي، چې زموږ د ګران هېواد بېرغ رپېږي او د هېواد ښځې او سړي ویاړ خوندي شوی دی. په همدې ویاړ، د امنیتي او دفاعي ځواکونو ټولو عسکرو او منسوبینو او په ورته وخت کې د افغانستان ټول سرلوړې ملت ته ددې ستړې ورځې مبارکي وایم.
ډاکټر انوارالحق احدي
د کرنې، اوبولګولو او مالدارۍ وزیر

**نهم حوت، روز ملی حمایت از نیروهای امنیتی مبارک باد**

امروز شنبه، نهم حوت، روز ملی حمایت از نیروهای امنیتی است. منسوبان نیروهای امنیتی، دشوارترین و پرافتخارترین خدمات مورد نیاز برای کلیت شهروندان افغانستان را ارایه می‌کنند. از تلاش‌ها و خواب‌سوزی‌های آنان است که پرچم کشور عزیزمان بلند است و عزت و افتخار زن و مرد این سرزمین حفاظت شده است.
بدین مناسبت، این روز بزرگ را به همه‌ی سربازان و سایر منسوبان نیروهای امنیتی و در عین حال به کافه‌ی ملت سربلند افغانستان مبارک می‌گویم.
داکتر انوارالحق احدی
وزیر زراعت، آبیاری و مالداری

## د خوړو نړیوالې ادارې د ۲۰۲۱ اجرایي بورډ لومړنۍ غونډه د کرنې وزارت د اوبولګولو او طبیعي سرچینو د مرستیال په ګډون په لاره واچول





د کرنې، اوبولګولو او مالدارۍ وزیر ډاکټر انوارالحق احدي، د خپل کار په دفتر کې افغانستان لپاره د اروپایي ټولنې د پلاوي مرستیال آرناوټ پاولس سره وکتل.
په دې کته کې دواړو خواوو د کرنې له وزارت سره د اروپایي ټولنې د همکاریو پر پراختیا خبرې وکړې. په دې غونډه کې د اروپایي ټولنې د ټولنیز پراختیا د برخې رییس ویم ریپما هم ګډون درلود.
افغانستان لپاره د اروپايي ټولنې د پلاوي مرستیال په دې لیدنه کې وویل یاده ټولنه غواړي، چې د کرنې وزارت او اروپایي ټولنې ترمنځ همکارۍ لا ډېر شي. د هغه په ټکو، اروپایي ټولنه لېوالتیا لري، چې د کرنې وزارت سره د بڼوالۍ او مالدارۍ به برخه کې لاډېرې مرستې آو همکارۍ وکړي او دغه راز یاده ټولنه غواړي، چې د سوداګریزې کرنې او د کرنیزو محصولاتو څنځیري ارزښت د ودې په برخه کې د کرنې وزارت سره مرستې وکړي.
ښاغلی پاولس خبر ورکړ، چې اروپایي ټولنه د امید پروژې لپاره ۱۷ میلیونه یورو ځانګړې کړې ده.د اروپایي ټولنې مرستیال وویل، یاده ټولنه لېوالتیا لري، چې د وړتیالوړنې، تخنیکي، استاندارډ کولو او تجهیز په برخه کې د کرنې وزارت سره مرستې وکړي. د کرنې وزیر ډاکټر انوارالحق احدي، هغوی ته ښه راغلاست وویل او د افغانستان دکرنې په برخه کې د اروپایي ټولنې له مرستو څخه د قدردانۍ ترڅنګ، د کرنې وزارت د برنامو، پلانونو، ددې وزارت د لاسته راوړنو او دغه راز د ۱۴۰۰ام کال د احتمالي وچکالۍ په هکله خبرې وکړې.
ښاغلی احدي وویل، د کرنې وزارت غواړي، چې د افغانستان کرنه په بنیادي ډول پراختیا ومومي او یاد وزارت د مارکېټ پر پراختیا تمرکز لري او باید زموږ د هېواد کرنه مارکېټ محور او سوداګریزه وي او د افغانستان کرنیزو تولیداتو لپاره باید نړیوال بازارونه وپلټل شي، چې په دې برخه کې د اروپايي ټولنې همکارۍ ډېرې اغېزناکې دي. دغه راز د کرنې وزیر وویل، چې موږ د کرنیزو محصولاتو پر لا ښه پروسس، بسته بندۍ او پیاوړتیا کار کوو او په یادو برخو او د وړتیالوړنې په برخه کې د اروپایي ټولنې د لاډېرو مرستو غوښتونکي یو.

## گپ دهقان

### خشک‌سالی احتمالی و مسوولیت ما

در زمستان امسال متأسفانه گواه برف و باران کافی نبودیم. در کابل که درختان در بهار گل می‌دادند، حدود یک هفته پیش (در آخر دلو)، بادام‌ها گل داده‌اند و بهار آغاز شده است. با این تفاوت: بهاری که زمستان و برف و باران کافی ماقبلش نباشد، چندان سبز و گوارا نیست و مژده‌ای ندارد. متأسفانه امسال افغانستان، که از شمار کشورهای آسیب‌پذیرتر از مشکلات ناشی از تغییرات اقلیمی است، به احتمال زیاد، دچار خشک‌سالی شده است. تغییرات اقلیمی متأسفانه خیلی دیر خبر می‌کند و چاره‌ای متأسفانه برای جلوگیری از وقوع آن در کوتاه‌مدت وجود ندارد. خشک‌سالی ضربه‌های محکمی به اقتصاد و منابع طبیعی هر کشوری که زراعتی باشد، وارد می‌کند. کمبود برف‌باری و باران و زمستانی خشک، باعث کاهش آب‌های زیرزمینی می‌شود. کمبود برف و باران، مسلماً باعث کاهش حاصلات زراعتی للمی و کاهش تولید برنج، به دلیل کاهش آب دریاها می‌شود که باعث نگرانی جدی همه‌گان می‌توانند باشد.

در سال ۱۳۹۷ نیز افغانستان گواه خشک‌سالی بود. در آن سال بیش‌تر روشن شد که در کنار کاهش غذا و آب برای انسان‌ها، مالداری و حیوانات و لبنیات نیز از بخش‌هایی است که با وقوع خشک‌سالی، ضررهای فراوانی را متقبل می‌شوند. در ۱۳۹۷، وزارت زراعت در کنار دیگر تدابیر، با تعدیل شماری از پروژه‌ها به یاری مالداران شتافت و کوشید تا صنعت مالداری کشور را نجات بدهد.

امسال نیز وزارت زراعت و نهادهای همکار در بخش زراعت و مالداری، در تلاش‌اند تا بتوانند اثرات ناگوار خشک‌سالی احتمالی را دفع کنند. در آخرین مورد انوارالحق احدی وزیر زراعت با رییس سازمان غذایی جهان «WFP» در افغانستان دیدار کرد و از او خواست تا در زمینه‌ی رسیده‌گی به مستحقان و آسیب‌پذیران از خشک‌سالی آماده‌ی کمک‌رسانی باشد.

برنامه‌ریزی و پلان‌گذاری برای مبارزه با آسیب‌های خشک‌سالی در محورهای اصلی کار وزارت زراعت است و این وزارت می‌خواهد با توجه به آسیب‌های احتمالی و با توجه به تجربه‌ی سال ۱۳۹۷، مهار بهتری از خشک‌سالی را به نمایش بگذارد.

از جانب دیگر، بخش دیگری از مسوولیت به دوش همه‌ی شهروندان کشور است. همه‌ی ما شهروندان، همان طوری که مسوولیت داریم در زمان باریدن برف و باران، بکوشیم منفذهایی در حویلی‌ها و صحن‌های مربوط‌مان برای تغذیه‌ی کاسه‌های آب زیرزمینی ایجاد کنیم، وظیفه داریم تا در زمانی که خشک‌سالی به وقوع می‌پیوندد، به شدت در کاهش مصرف آب بکوشیم.

آبی که در سال‌های خشک به مصرف می‌رسد، به معنای خرج از قلب زمین است. قلبی که هر لحظه ممکن است بدون خون بماند و بایستد و ما نیز مجبور شویم با آن متوقف شویم. مسوولیت همه‌ی ما در تمامی کشور همین است که هم‌مانند رییس جمهور محمداشرف غنی، آب را آبروی خود بخوانیم و یک قطره‌ی آن را ضایع نسازیم.

در شهرهای بزرگ، هم‌چون کابل، هرات، قندهار و ننگرهار، این نگرانی به صورت بسیار گسترده وجود دارد که در شماری از مناطق این شهرها، به زودی، منابع زیرزمینی آب خشک شوند و ما تشنه‌کام به روی زمین بمانیم.

به همین دلیل، لازم است در زمانی که خشک‌سالی به وقوع پیوسته است، در کنار رسیده‌گی به مستحقان و نیم‌کردن نان خودمان با تهی‌دستان و مستحقان، به زمین و به ریشه‌های حیات‌مان رحم کنیم و قطره‌ای از آب را ضایع نسازیم.

## ۳۲ سبزخانه برای زنان روستایی در هرات ساخته شد



برنامه‌ی حمایت از اولویت ملی دوم «SNaPP۲» وزارت زراعت که از طریق برنامه نهاد «IFAD» تمویل می‌شود، برای رفع چالش‌های معیشتی، ۳۲ سبزخانه را برای زنان روستایی در ولایت هرات ساخته است. از طریق مشاغل کوچکی که برای آن‌ها ایجاد شده، زنان مستفیدشده از سبزخانه‌ها در سبزخانه‌های‌شان انواع مختلف سبزیجات از قبیل (ملی، تره، گشنیز، نوش‌پیاز، بادنجان رومی، بادنجان سیاه، مرچ و ...، کشت می‌کنند و از این محصولات در کنار این‌که در فامیل‌شان استفاده می‌کنند، مازاد آن را در بازارهای محلی می‌فروشند. این زنان روستایی اکنون می‌توانند با افزودن محصولات‌شان به رژیم‌های غذایی روزانه و آشپزخانه، بیشتر نیازهای غذایی روزمره‌ی خانواده‌ی خود را برطرف کنند و همین امر باعث می‌شود که محصولات مازادشان را به بازارهای محلی بفروشند و پول نقد ثابتی داشته باشند. شایان ذکر است که اندازه‌ی هر یک از این سبزخانه‌ها ۴۰ متر مربع است. این سبزخانه‌ها در ولسوالی‌های انجیل، گذره، کرخ، زنده‌جان و غوریان ولایت هرات ساخته شده است.

## آغاز کمپین نهال‌شانی بهاری در فراه



کمپین نهال‌شانی بهاری در مراسمی در صحن دانشگاه ولایت فراه با حضور مقام‌های محلی این ولایت، ریش‌سفیدان، جوانان، و اعضای جامعه‌ی مدنی آغاز شد. عبدالمنان متین رییس زراعت، آبیاری و مالداری ولایت فراه در این مراسم گفت، ریاست زراعت بیش از شصت هزار نهال مثمر و غیر مثمر را در قوریه‌جات آمریت منابع طبیعی این ریاست تولید کرده است. قرار است بخشی از این نهال‌ها را در مناطق مختلف این ولایت غرس کند و بخش دیگر آن را برای اماکن عامه و اداره‌های دولتی توزیع کند.

## کاپیسا کې سږکال د شړشمو اته ننداریزې کروندې جوړې شوې دي



د کاپیسا د کرنې ریاست وایي، چې سږکال ددې ولایت په مرکز محمودراقي او د نجراب او لومړي حیصې ولسوالیو کې د ٦٩ زره او ۴۰۰ افغانیو په لګښت د شړشمو اته ننداریزې کروندې جوړې شوې دي. دغه راز د کاپیسا ولایت په مرکز محمود راقي او د یاد ولایت د کوهستان لومړي حیصې او دویمې حیصې، کوه بند نجراب، تګاب اواله سای ولسوالیو کې د ١٩٦ زره او ٦٥٠ افغانیو په لګښت د غنمو ۳۰ ننداریزې کروندې هم جوړې شوې دي.
باید ووېل شي، چې د غنمو د یادو ننداریزو کروندو په هره کرونده کې ۲۰ بزګرانو د کتار په ډول د غنمو دکرکیلې په برخه کې روزنه ورکړل شوې دي.

### د کرنې وزارت د یوې برنامې له لارې بادغیس کې د الوویرا ۴۴ ګلخونې او ۴۸ وړې شنې خونې جوړې شوې



د باغیس د کرنې، اوبولګولو او مالدارۍ ریاست وایي، چې د کرنې وزارت د کرنې د ودې او کلیوالي پارختیا پروژې CBARD په همکارۍ په دې ولایت کې ۴۸ وړې شنې خونې او د الوویرا ۴۴ ګلخونې جوړې شوې دي. یادې شنې خونې او ګلخونې، چې هر یوه یې ۳۰۱ مترمربع پراخوالی لرې، د بادغیس ولایت د قادس، بالامرغاب، غورماچ او جوند په ولسوالیو کې جوړې شوې دي.
په ورته وخت کې د یادو ولسوالیو پر یوشمېر کروندګورو مېرمنو د سبو او مېوو د پروسس ۲٦ کڅوړې هم وېشل شوې دي.

## دکرنې وزیر په افغانستان کې د خوړو نړیوال پروګرام«WFP» مشري سره، د احتمالي وچکالي د زیانونو پر رسېدنه خبرې وکړې



د کرنې، اوبولګولو او مالدارۍ وزیر ډاکټر أنوار الحق احدي د خپل کار په دفتر کې د خوړو نړیوالې پروګرام «WFP» مشرې مري الن سره وکتل.

په دې کتنه کې دواړو خواوو وچکالۍ څخه زیانمنو کسانو ته د رسېدنې همغږۍ له ډلې پر اړمنو دغنمو او نورو خوراکي توکو پر وېش خبرې وکړې.

په دې ناسته کې دکرنې وزیر وویل، چې ۱۴۰۰ ام کال د وچکالۍ کال ده او باید اړمنو او زیانمنو کسانو سره د خوراکي توکو او اړتیاوړ نورو توکو مرسته وشي، ځکه خلک ددې ستونزې د ګاللو توان نه لري.

ښاغلی احدي دغه راز وویل: «زموږ هلې ځلې هم دادي، چې په دې برخه کې خپلې برنامې او پلانونه پیاوړي کړو او له تاسو غواړو چې دې برخې ته ډېر تمرکز وکړئ او زیانمنو ته د رسېدنې په برخه کې خپلې هلې ځلې لا ډېر کړئ.»

وروسته په افغانستان کې د خوړو نړیوال پروګرام «WFP» مشرې مري الن وویل، وچکالي رامنځته شوې ده او د دوی اداره هلې ځلې کوي، چې یادو مواردو ته رسېدنه وکړي، بودیجه یې ډېروي او په بشپړه توګه د یاد وضعیت په جریان کې ده.

مېرمن الن زیاته کړه، چې د ۲۰۲۱ کال له مارچ څخه پنځه میلیونه کسانو سره د مرستې لړۍ پیلوو او په دې برخه کې خپله ژمنه اعلانوو.

## د سوداګریزې کرنې د پراختیا په پار افغانستان لپاره د اروپایي ټولنې د پلاوي له مرستیال سره د کرنې وزیر کتنه

د کرنې، اوبولګولو او مالدارۍ وزیر ډاکټر انوارالحق احدي، د خپل کار په دفتر کې افغانستان لپاره د اروپایي ټولنې د پلاوي مرستیال آرناوټ پاولس سره وکتل.

په دې کته کې دواړو خواوو د کرنې له وزارت سره د اروپایي ټولنې د همکاریو پر پراختیا خبرې وکړې. په دې غونډه کې د اروپایي ټولنې د ټولنیز پراختیا د برخې رییس ویم ریپما هم ګډون درلود.

افغانستان لپاره د اروپایي ټولنې د پلاوي مرستیال په دې لیدنه کې وویل یاده ټولنه غواړي، چې د کرنې وزارت او اروپایي ټولنې ترمنځ همکارۍ لا ډېر شي. د هغه په ټکو، اروپایي ټولنه لېوالتیا لري، چې د کرنې وزارت سره د بڼوالۍ او مالدارۍ به برخه کې لاډېرې مرستې آو همکارۍ وکړي او دغه راز یاده ټولنه غواړي، چې د سوداګریزې کرنې او د کرنیزو محصولاتو ځنځیري ارزښت د ودې په برخه کې د کرنې وزارت سره مرستې وکړي.

ښاغلی پاولس خبر ورکړ، چې اروپایي ټولنه د امید پروژې لپاره ۱۷ میلیونه یورو ځانګړې کړې ده.د اروپایي ټولنې مرستیال وویل، یاده ټولنه لېوالتیا لري، چې د وړتیالوړنې، تخنیکي، استانداړد کولو او تجهیز په برخه کې د کرنې وزارت سره مرستې وکړي. د کرنې وزیر ډاکټر انوارالحق احدي، هغوی ته ښه راغلاست وویل



او د افغانستان دکرنې په برخه کې د اروپایي ټولنې له مرستو څخه د قدردانۍ ترڅنګ، د کرنې وزارت د برنامو، پلانونو، ددې وزارت د لاسته راوړنو او دغه راز د ۱۴۰۰ام کال د احتمالي وچکالۍ په هکله خبرې وکړې. ښاغلی احدي وویل، د کرنې وزارت غواړي، چې د افغانستان کرنه په بنیادي ډول پراختیا ومومي او یاد وزارت د مارکېټ پر پراختیا تمرکز لري او باید زموږ د هېواد کرنه مارکېټ محور او سوداګریزه وي او د افغانستان کرنیزو تولیداتو لپاره باید نړیوال بازارونه وپلټل شي، چې په دې برخه کې د اروپایي ټولنې همکارۍ ډېرې اغېزناکې دي.

دغه راز د کرنې وزیر وویل، چې موږ د کرنیزو محصولاتو پر لا ښه پروسس، بسته بندۍ او پیاوړتیا کار کوو او په یادو برخو او د وړتیالوړنې په برخه کې د اروپایي ټولنې د لاډېرو مرستو غوښتونکي یو.



✍حشمت‌الله حبیبی
گزارش‌گر

# زنان توان‌مند در زراعت: دهقانانی که دسترخوان‌شان را رنگین می‌کنند

به گزارش ریاست زراعت کابل، امسال یک‌هزار و ۱۹۰ باغچه خانه‌گی به یک هزار و ۱۹۰ خانم در ولسوالی‌های سروبی، خاک‌جبار، موسهی، چهارآسیاب، بگرامی و ده‌سبز ساخته شده است. همین گونه چهار سبزخانه به چهار خانم در ولسوالی خاک‌جبار توزیع شده و ۳۲۵ سبزخانه با بذرهای مورد نیاز آن، به ۳۲۵ خانم زراعت‌پیشه در ولسوالی‌های فرزه، ده‌سبز، بگرامی، چهارآسیاب و پغمان توزیع شده است.

به همین ترتیب در سال جاری خورشیدی، ۲۷ پایه ماشین خشک‌کننده سبزی‌جات و میوه‌جات به خانم‌های زراعت‌پیشه توزیع شده است. هزینه هر یک از این ماشین‌ها، بیش از ۱۴۵ هزار افغانی بوده و هزینه‌ی مجموعی آن بیش از سه میلیون و ۹۱۷ هزار افغانی است و به شکل رایگان به این خانم‌ها توزیع شده است.

امسال برای ۱۰۰ خانم وسایل پروسس مواد غذایی در ولسوالی پغمان توزیع شده و افزون بر آن، برای ۷۰ خانم وسایل (بیلر، دیگ، بالون گاز، منقل، بیل و جالی) که شامل ۱۴ نوع وسیله کشت و تولید سمارق است در نواحی شهر کابل توزیع شده است.

ریاست زراعت کابل، هم‌چنان در جریان این سال، ۲۵۰ فارم ۱۰۰ قطعه‌ای مرغ را به ۲۵۰ خانواده در ولسوالی‌های میربچه‌کوت و کلکان ایجاد کرده و بیش از شش هزار مرغ را به ۲۰۰ خانم در ولسوالی پغمان توزیع و در همین حال بیش از دو هزار و ۸۰۰ مزرعه‌ی مرغ تخم‌گذار را با وسایل مرغداری و دانه‌ی آن به ۱۴۴ خانم در ولسوالی کلکان و نواحی شهر کابل توزیع کرده است.

به منظور رشد کاروبار زراعتی زنان، یک هزار و ۵۳۹ خانم در نُه ولسوالی در بخش‌های مرغداری، پروسس، مالداری، باغچه‌های خانه‌گی آموزش داده شده است.

به نقل از گزارش سال مالی ۱۳۹۹ ریاست زراعت ولایت کابل، توزیع ۱۶۰ بز شیری به ۸۰ خانم در ولسوالی فرزه، کمک یک هزار و ۲۰۰ مرغ تخم‌گذار به ۸۰ خانم در ولسوالی بگرامی، توزیع ۴۰۰ مرغ تخم‌گذار به ۱۰ خانم در ولسوالی خاک‌جبار، توزیع ۱۶ گاو شیری به ۱۶ خانم در نواحی شهر کابل از فعالیت ریاست زراعت کابل در بخش حمایت از زنان است.

به همین ترتیب، ۶۸۰ مرغ تخم‌گذار به ۴۰ خانم بی‌بضاعت در ولسوالی شکردره توزیع شده است. دانه، تداوی و وسایل مرغداری شامل اعمار مرغانچه و راه‌اندازی برنامه‌ی



آموزشی آن نیز در همکاری مؤسسه «سرف» صورت گرفته است.

هم‌چنان دفتر (FAO) در همکاری با ریاست زراعت ولایت کابل، جهت انکشاف و حمایت از زنان به ۲۲۹ خانم در بخش پروسس مواد غذایی آموزش داده و ۱۷۶ بسته‌ی محافظتی از بیماری کرونا را به خانم‌های زراعت‌پیشه توزیع کرده است.

در نتیجه‌ی کارهای گروهی زنان، به ارزش ۲۰۰ هزار و ۷۵۵ افغانی محصولات، توسط آفتاب خشک‌کننده‌های گروپ کمک‌های خودی خانم‌ها تولید و به فروش رسیده است.

چنان‌که معلوم می‌شود، حضور و فعالیت زنان زراعت‌پیشه در سطح ولایت کابل، با دست‌آورد است. فعالیت‌های زنان در این بخش نشان می‌دهد که آنان از ظرفیت بالای کاری برخوردار اند و سرمایه‌گذاری روی کار آنان، گام‌هایی به سوی خودکفایی اقتصادی خانواده‌ها و پیش‌رفت‌های ارزش‌مندی است.

# کشت شالی با شیوه قطاری حاصلات دهقانان را به شکل چشم‌گیر افزایش داده است



صدیق خالد
کارمند ارتباطات «CPMO»



شالی یا برنج یکی از محصولات مهم زراعتی افغانستان است. شالی در ولایت‌های مختلف افغانستان به ویژه در ولایت‌های شمال‌شرقی افغانستان به صورت گسترده کشت می‌شود، اما شیوه‌های کشت شالی و نیز طریقه‌های آبیاری در بیش‌تر موارد به صورت مسلکی صورت نمی‌گیرد. قسمی که دهقانان از طریقه‌های عنعنه‌ای برای کشت شالی کار می‌گیرند که این کار از یک طرف میزان حاصلات‌شان را کاهش می‌دهد و از سوی دیگر از کیفیت شالی نیز به صورت چشم‌گیر می‌کاهد. روی همین ملحوظ وزارت زراعت، آبیاری و مالداری از طریق پروژه برنامه سرمایه‌گذاری انکشاف منابع آبی (LKISP) در ولایت‌های تخار و کندز تعداد زیادی از مزرعه‌های نمایشی شالی را ساخته که برای دهقانان زمینه‌ی آموزش‌های لازم را در بخش‌های مختلف نیز فراهم کرده است.

یکی از مستفیدشونده‌گان از این مزرعه‌های نمایشی، محمدزی از ولسوالی دشت ارچی ولایت کندز است. محمدزی و دیگر دهقانان در قریه‌ی‌شان شالی را از سال‌ها بدین‌سو به شیوه‌ی یک‌نواخت کشت می‌کردند؛ شیوه‌هایی که از اجداد و نیاکان برای‌شان به ارث مانده است. کشت با شیوه‌های عصری از ضایعات آب جلوگیری می‌کند و نیز استفاده از کودهای طبیعی و کیمیایی را بر اساس تجربه‌های از قبل انجام شده، مورد استفاده قرار می‌دهد. در کل نبات شالی به آب بیش‌تر نیاز دارد و روی این ملحوظ باید زمین آن به شکل اساسی هموار شود تا آب به همه‌ی قسمت‌های مزرعه به شکل یک‌سان برسد و از ضایعات آب جلوگیری شود.

مزرعه‌ی نمایشی شالی برای محمدزی سال گذشته در قریه‌شان از سوی پروژه برنامه سرمایه‌گذاری انکشاف منابع آبی (LKISP) ایجاد گردید که در طول ساخت این مزرعه نمایشی، حدود ۱۸۰ تن از دهقانان هم‌جوار این مزرعه‌ی نمایشی، در بخش‌های مختلف کاری‌شان، مهارت‌های لازم را یاد گرفتند. طریقه‌های عصری آبیاری، خیشاوه کردن، هموار کردن زمین به شکل اساسی، طریقه‌های عصری کشت، استفاده از کودهای کیمیایی، جلوگیری از شیوع بیماری‌های گوناگون، طریقه‌های مدیریت امراض گیاهی و نیز طریقه‌های برداشت حاصلات برای‌شان به گونه عملی آموزش داده شد. محمدزی درباره‌ی مزرعه نمایشی خودش می‌گوید: «در طول سالیان گذشته ما از طریقه‌های عنعنه‌ای برای کشت شالی استفاده می‌کردیم که در نتیجه حاصلات‌مان از دید کمی و کیفی قناعت‌بخش نبود، اما امسال با ساخت مزرعه نمایشی توانستیم حاصلات خوبی را به دست آوریم، قسمی که سال پار از دو جریب زمین شالی‌زار یک هزار و ۹۰۰ کیلو گرام شالی حاصل گرفتیم، اما امسال با ساخت مزرعه نمایشی، توانستیم از همان دو جریب زمین شالی‌زار، حدود دو هزار و ۹۷۴ کیلو گرام شالی حاصلات به دست آوردیم، که این خود نمایان‌گر یک پیش‌رفت چشم‌گیر در عرصه کاروبار و تولید محصولات‌مان است.» او در ادامه می‌افزاید: «ما در طول ساخت این مزرعه‌ی نمایشی، مهارت‌های لازمی را نیز فرا گرفتیم که سال‌های آینده در مزرعه‌های‌مان تطبیقش می‌کنیم. قسمی که سال پار دو جریب زمین مزرعه‌ی خودم را حدود صد بار (۴۰۰۰m۳) آبیاری کردیم اما مزرعه نمایشی را از روز اول تا روز برداشت حاصل، حدود ۹۰ بار (۳۲۰۰m۳) آبیاری کردیم که این خود نشان‌دهنده جلوگیری از ضایعات آب نیز هست.»

مزرعه‌های نمایشی تفاوت‌های زیادی با شیوه‌ی عنعنه‌ای دارد. به گونه‌ی مثال؛ زمین مزرعه‌ی نمایشی با استفاده از تکنولوژی لایزرلیول (LLL) هموار می‌شود، در حالی که این کار در شیوه‌های کلاسیک به صورت مسلکی صورت نمی‌گیرد. هم‌چنان استفاده از کودهای کیمیایی و حیوانی به اساس محاسبه‌های از قبل سنجیده شده، عملی می‌گردد. قسمی که در مزرعه نمایشی محمدزی سال پار ۲۰۰ کیلو گرام کود یوریا استفاده شده بود، اما با ساخت مزرعه نمایشی، این رقم به ۱۵۰ کیلو گرام کاهش یافت. از سوی دیگر فاصله بین بته‌ها در نظر گرفته نمی‌شد، اما این کار در مزرعه نمایشی مد نظر گرفته شده و فاصله‌ی ثابت بین بته‌ها رعایت شد تا بته‌ها به صورت اساسی رشد کنند و ساقه نبات قوی شود. در کل ایجاد مزرعه‌های نمایشی یک فرصت خوب برای دهقانان است تا بتوانند با زراعت مکانیزه آشنایی یابند و نیز طریقه‌های عصری کشت و آبیاری را در مزرعه‌های خودشان عملی بسازند. قابل ذکر است که پروژه برنامه سرمایه‌گذاری انکشاف منابع آبی (LKISP) از سوی بانک انکشاف آسیایی (ADB) تمویل می‌گردد.

## تطبیق ٦٦ پروژه آبیاری در فراه از طریق پروژه رشد زراعت و انکشاف روستایی



وزارت زراعت، آبیاری و مالداری، ٦٦ پروژه آبیاری را در ولایت فراه از طریق پروژه رشد زراعت و انکشاف روستایی یا CBARD، تطبیق کرده است.

این پروژه‌ها به منظور تنظیم آب، آبیاری زمین‌های خشک، حمایت از دهقانان و افزایش حاصلات در فراه تطبیق شده است. در نتیجه تطبیق این پروژه‌ها صدها جریب زمین تحت پوشش آبیاری قرار گرفته است.

## ننگرهار کې د ۹۲۲ جریبه عادي او متراکمو بڼونو د جوړولو چارې پیل شوې

د کرنې، اوبولګولو او مالدارۍ وزارت د کرنې د ودې او کلیوالي پراختیا پروژې (CBARD) له خوا په ننګرهار ولایت کې د ۹۲۲ جریبه عادي او متراکمو بڼونو د جوړولو چارې پیل شوې.

د ننګرهار د کرنې ریاست چارواکي وایي، یاد بڼونه چې په کې د انارو، شفتالو، املوک، چهارمغز، لیمو او مالټې بڼونه شامل دي د ننګرهار ولایت د کوټ، رودات، چپرهار، خوګیاڼي، شېرزاد او اچین په ولسوالیو کې، د کرنې وزارت د کرنې د ودې او کلیوالي پراختیا پروژې (CBARD) په همکارۍ جوړېږي.

دغه راز د کرنې وزارت یاده پروژه په پام کې لري، چې دمنې موسم د نیالګیو اېښود په کمپین کې هم په ننګرهار کې ۷۵۰ جریبه نورعادي او متراکم بڼونه جوړ کړي.



په ننکرهار کې د یادو بڼونو جوړول د بڼوالۍ د ودې او پراختیا ترڅنګ د سیمې د سمسورتیا او د هوا د پاکوالي په برخه کې مرسته کوي.

# خوست کې د لندرو د آبریزې پروژه ګټې اخیستنې ته وسپارل شوه



عبدالواسع خان‌زاده
خبریال

د خوست د کرنې، اوبولګولو او مالدارۍ ریاست وايي، چې ددې ولایت د علیشېرو ولسوالۍ د لندرو د آبریزې د پروژې چارې بشپړ او ګټې اخیستنې ته وسپارل شوه. په دې اړه جوړه شوې غونډه کې د خوست مرستیال والي عبدالواحد پټان، د خوست د کرنې رییس انجنیر حفیظ الله شانوري او ددې ولایت یوشمېر نور سیمه ییزو چارواکو ګډون درلود.

په غونډه کې د خوست مرستیال والي، عبدالواحد پټان ددې ولایت د کرنې ریاست کړنې او فعالیتونه وستایل او زیاته یې کړه، چې د اوبو مهارول د دوی لومړتوب دی، او د خوست ولایت مقام به په راتلونکي کې هڅه کوي، چې د اوبو د مهار په موخه نورې پراختیایي پروژې منظورې کړي.

په همدې حال کې د خوست د کرنې رییس انجنیر حفیظ الله شانوري وویل یاد پروژه، چې د خوست ولایت د علیشېرو په ولسوالۍ کې پلي شوې ده ۱۰۸ هکتاره سیمه تر پوښښ لاندې راوستې دي او یوزر او ۲۰۰ کورنۍ په نېغه توګه ترې ګټه پورته کوي.



د خوست دکرنې رییس وویل، چې په دې پروژه کې په ټولیزه توګه پنځه زره او ۵۰۶ ترینچونه کېندل شوي او ۷۵ چک ډمونه جوړې شوې دي، همداراز د شپږ زره لیتره په وړتیا سره د اوبو زېرمه په پاخه او اساسي ډول رغول شوي، چې د اوبو سیستم کې یې د پنځه زره او ۳۱۲ مترو په اوږدوالي پایپ او ۲۹ نلکې لګېدلي دي، ۴۲ دانې ۴۰۰ واټه لمریزې تختې، چې تر ۱۳۰ متره لوړوالي او ۶۲۰ متره افقي سطحه کې د دوه انچه اوبو د پورته کولو وړتیا لري هم ددې پروژې اړونده کړنې دي.

د حفیظ الله شانوري په ټکو ددې پروژې په سیمه کې زرګونه نیالګي چې په کې د چهارمغزو، بادامو، زردالو، انارو، املوکو، لاچي او د زیتونو نیالګي شامل دي هم ابښودل شوي دي. او ترځنګ یې د یادې پروژې په سیمه کې د زیرې، رشقې، اتریفلکس او د شاخلو د کرکېلې په پار سلګونه کیلو ګرامه تخمونه هم برابرې شوي دي. دغه راز د آبریزې په سیمه کې د مېوه لرونکو او بې مېوې نیالګیو د تولید په پار د مېوه لرونکو او بې مېوې ۳۰۰ کیلو ګرامه تخمونه چمتو شو دي، د نیالګیو د خروبولو په پار د اوبو زېرمه په پاخه اواساسي ډول رغول شوي، په نیم جریبه ځمکه کې د مېوه لرونکو او بې مېوې نیالګیو قریه جوړه شوې ده، چې هرکال به ترې د اړتیا وړ نیالګي سیمې ته ولېږل شي، د آبریزې د اړوندو کلیو په کچه د ځنګلولۍ ټولنه جوړول او د لومړنیو صحي مرستو کېټ برابرول او د طبیعي سرچینو د ټولنې غړو او له آبریزې څخه برخمنو کسانو ته روزنه ورکول هغه چارې دي، چې ددې پروژې په ترځ کې تر سره شوي دي.

باید وویل شي، چې ددې پروژې تولیز لګښت ۸۲ زره او ۶۸۰ امریکایي ډالره ده، چې په پلې کېدو سره یې درې زره او ۷۰۰ کاري ورځې هم ایجادې شوي دي.

# د لا زرغونتیا په پار هڅې، سږ د هېواد په کچه نږدې ۲۷ میلیونه نیالګي ابښودل کېږي

د پسرلي په درشل کې هر کال د کرنې، اوبولګولو او مالدارۍ وزارت، خصوصي سکټور او اړوندو نهادو په ګډه همکارۍ د هېواد په کچه د نیالګیو ابښودو کمپین په لاره اچول کېږي، چې په ترځ کې یې میلیونونه مېوه لرونکي او بې مېوې نیالګي ابښودل کېږي. ددغو کمپینونو او د نیالګیو ابښودو موخه د چاپېریال ساتنه، د هېواد زرغونتیا او ښکلا، د هوا د ککړتیا مخنیوی، د اوبو د زېرمو پیاوړتیا، د طبیعي زېرمو ساتنه، د نیالګیو ابښودو دود پیاوړي کول او خلکو ته کاري فرصتونه برابرول دي.

د کرنې، اوبولګولو اومالدارۍ وزارت، د طبیعي سرچینو لوی ریاست چارواکي وايي، چې سږکال د هېواد په کچه نږدې ۲۷ میلیونه مېوه لرونکي او بې مېوې نیالګي ابښودل کېږي، چې له دې ډلې څه باندې دوه میلیونه نیالګي یې د کرنې وزارت له خوا تولید شوي دي، چې دغه نیالګي د بېلابېلو دولتي او غیر دولتي ادارو او هېوادوالو له خوا په عامه ځایونو کې د ابښودو په پار د دوی په واک کې ورکول کېږي.



د کرنې وزارت د ځنګلونو رییس محمد امان امانیار وايي، چې د سږنې نږدې ۲۷ میلیونه تولید شویو نیالګیو له ډلې، د کرنې وزارت له لورې د ولایتو په کچه په ټول هېواد کې دوه میلیونه، ۴۶۸ زره او ۵۵۶ نیالګي تولید شوي دي. ددې ترځنګ ۱۸میلیونه او ۱۸۱ زره او ۴۱۴ نیالګي د قوریه لرونکو ټولنو، پنځه میلیونه او ۷۳زره او ۶۲۸ نیالګي په انفرادي توګه د خلکو لخوا او یومیلیون او ۱۵ زره او ۴۹ نیالګي د موسساتو له خوا تولید شوې دي، چې په ټولیزه توګه ۲۶ میلیونه او ۷۳۸ زره او ۶۷۴ نیالګي کېږي او په ټول هېواد کې په ابښودل کېږي.

ښاغلی امانیار وویل، چې د کرنې وزارت تولید شوي نیالګي د یاد وزارت د لاښود پر بنسټ خلکو او نهادونو ته ورکول کېږي.

د امانیار په ټکو په تودو ولایتونو لکه «ننګرهار، لغمان، کونړ، خوست، کندهار، هلمند، نیمروز اوفراه» کې اقلیمي شرایطو ته په کتو د نیالګیو ابښودو لړۍ د سلواغې میاشتې څخه پیلېږي او په سړو سیمو کې بیا اقلیمي شرایطو ته په کتو د نیالګیو ابښودو لړۍ د کب له ۱۵ مې نېټې پیل او د وری میاشتې په ۱۵ مې نېټې پای ته رسېږي. دهغه په خبره په ګرمو ولایتونو کې د نیالګیو ابښودو کمپین پیل شوی دی او ډېر ژر به په سړ سیمو کې هم د کرنې وزارت له لورې د نیالګیو ابښودو کمپین پیل شي.

د محمد امان امانیار په خبره کوم څه چې باید هېر نه کړو، د نیالګیو څارل او ساتل دي. د لا سمسورتیا او د راتلونکو نسلونو د ژوند د دوامې په موخه، اړینه ده، چې د ونو ساتنې ته لاپېر او په ټولیزه توګه فعال وسو، ترڅو ژوند لپاره ښه هوا ولرو.

باید وویل شي، چې د ولسمشر د حکم پر اساس د کب شلمه، د نیالګیو ابښودو ملي ورځ نومول شوې دی او د هر کال د نیالګیو ابښودو ملي کمپین هم تر ځانګړي شعار لاندې په همدې ورځ پیلېږي.

# د کندهار په بولدک کې ۴۰ خاورين چکډمونه ګټې اخيستنې ته وسپارل



د کندهار د کرنې، اوبولګولو او مالدارۍ رياست وايي، چې د طبيعي سرچينو د څرځايونو د تنظيم پروژې په اډانه کې ددې ولايت د بولدک په ولسوالۍ کې د ځايي مالدارانو او کوچيانو د اوبو د ستونزې هوارولو او د مالدارۍ د ودې په پار د ۴۰ منځنۍ چکډمونو رغنيزې چارې بشپړ او ګټې اخيستنې ته وسپارل شول.

دغه پروژه، چې د کرنې وزارت د طبيعي سرچينو د لوی رياست له خوا پلي شوې دي، د کندهار د بولدک ولسوالۍ د ځايي مالدارانو او کوچيانو د مالدارۍ د ودې په پار په کې، د مالدارانو څارويو لپاره ۴۰ خاورين منځنۍ چکډمونه جوړ شوي دي.

د کندهار د کرنې، اوبولګولو او مالدارۍ رييس سيد حفيظ الله سيدي وايي، چې ددې پروژې پلي کول په دې سيمه کې د مالدارۍ د ودې ترڅنګ د مالدارانو د عوايدو د زياتوالي لامل هم کېږي.

د ښاغلي سيدي په خبره ياد چکډمونه به وکولای شي، چې د ځمکې لاندې اوبه تقويه کړي، چې په پايله کې به يې کاريزونو او څاګانو کې اوبه ډېر او د خاورې د تخريب او سيلابونو مخه به ډب کړي او ترڅنګ يې د باران اوبه زېرمه، د خاورې د تخريب مخنيوي او وحشي ژويو ته به يوه پناګاه رامنځته کړي.

په ورته وخت کې له دغو پروژو څخه د بولدک ولسوالۍ برخمن شوي کوچيان او ځايي مالداران د کرنې وزارت څخه مننه وکړه، چې د مالدارانو او بزګرانو ژوند او توليداتو ته ډېره پاملرنه او له مالدارانو او بزګرانو سره په بېلابېلو برخو کې مرستې کوي. هغوی وويل، چې د کرنې وزارت مرستې او همکارۍ ددې لامل کيږي، چې د بزګرانو اقتصاد وده وکړي او توليدات يې زيات شي.

د کندهار د کرنې، اوبولګولو او مالدارۍ رييس سيد حفيظ الله سيدي وويل، چې ددې ولسوالۍ د کرنې او مالدارۍ د ودې په موخه تر دې وړاندې هم يوشمېر پروژې پلې شوې دي، چې ورسره د يادې ولسوالۍ د بزګرانو او مالدارانو يوشمېر ستونزې هواري شوي دي. ښاغلي سيدي وويل، چې په نږدې راتلونکې کې به په دې ولسوالۍ کې يوشمېر نورې پروژې هم پلې شي، چې د نويو پروژو په پلي کېدو سره به ددې ولسوالۍ د بزګرانو او مالدارانو يوشمېر نور شته ستونزې هم هوارې او د دوی اقتصاد به ور سره وده وکړي.

## پشتونکوټ کې د يو سربند په جوړېدو سره د ۶۰۰ هکتاره ځمکو د اوبو د کموالي ستونزه هواره شوه



د فارياب ولايت د کرنې، اوبولګولو او مالدارۍ رياست وايي، چې ددې ولايت د پشتونکوټ ولسوالۍ په عليکه کلي کې د اوبو د يو سربند په جوړېدو سره، د ۶۰۰ هکتاره کرنيزو ځمکو د اوبو د کموالي ستونزه هواره شوې ده.

ياد سربند چې ۱۳۲.۵ متره اوږدوالی او څلور متره لوړوالی لري د ناروې هېواد له مرستو څخه د څلور ميليونه افغانيو په لګښت د «اکتيد» موسسې له خوا جوړه شوې ده.

ددې سربند د چارې په بشپړېدو او ګټې اخيستنې سره، د پشتونکوټ ولسوالۍ د ۱۲ کليو د کرنيزو ځمکو د اوبو ستونزې هوارې شوې دي.

## توزیع ۸۰ سبزخانه‌ی کوچک به زنان زراعت‌پیشه در پنجشیر



ریاست زراعت، آبیاری و مالداری ولایت پنجشیر، می‌گوید که طی سال جاری ۸۰ سبزخانه‌ی کوچک از طریق پروژه ملی باغداری و مالداری به زنان زراعت‌پیشه‌ی این ولایت توزیع شده است.

این سبزخانه‌ها به منظور تولید سبزیجات با هزینه یک میلیون و ۶۷۴ هزار افغانی توزیع شده است.

هم‌چنین یک مرکز خدمت‌رسانی به دهقانان نیز در جریان امسال در ولسوالی عنابه پنجشیر با هزینه ۳۷۵ هزار افغانی ساخته شده است. این مرکز به دهقانان و باغداران مشورت‌های فنی و مسلکی ارایه می‌کند.

## د سوېل ختيځ زون د دوو ولايتونو د کرنې رياستونو يو شمېر کارکوونکو ته پنځه ورځنۍ روزنيز پروګرام پيل شو



د پکتيا د کرنې، اوبولګولو او مالدارۍ رياست د غونډو په تالار کې د اريکو دفتر په همکارۍ د سوېل ختيځ زون پکتيا او خوست د کرنې رياستونو يو شمېر کارکوونکو ته د طبيعي سرچينو مديريت په برخه کې پنځه ورځنۍ روزنيز پروګرام پيل شو.

د پکتيا د کرنې، اوبولګولو او مالدارۍ رييس انجنير محمد دين مومند وويل، چې طبيعي سرچينې عامه شتمنې دي، ساتنه، پالنه او مديريت يې د ټولو وګړو مسئوليت دی. ښاغلي مومند د طبيعي سرچينو د مديريت ياد روزنيز پروګرام مهم وباله او له ګډونوالو يې وغوښتل، چې ترلاسه شوې زده کړې او تجربې له بزګرانو او خپلو همکارانو سره هم شريکې کړي.

د يادولو وړ ده، چې ياد روزنيز پروګرام د پنځو ورځو لپاره ده او ګډونوالو ته به د طبيعي سرچينو د مديريت عملي او نظري لارې چارې وښودل شي.

# پیاز وطن، هم غذا هم دارو



محمدتمیم صدیقی
گزارش‌گر

به اساس آماری که ریاست احصائیه وزارت زراعت، آبیاری و مالداری در سال ۱۳۹۹ از تولید و ساحه کشت پیاز در سطح کشور ارایه کرده است، ساحه کشت پیاز ۱۶ هزار و ۹۵۸ هکتار است که از این مقدار ۳۱۰ هزار و ۹۷۹ متریک تن پیاز تولید شده است. پیاز افغانستان بازارهای داخلی و خارجی دارد.

ولایت‌هایی که در تولید پیاز پیش‌تاز اند برای شما به معرفی می‌گیریم.

ننگرهار

ریاست زراعت ولایت ننگرهار از افزایش حاصلات پیاز در این ولایت خبر داده می‌گوید که امسال نسبت به سال قبل پنج درصد در حاصل پیاز افزایش رونما شده است.

مسوولان در ریاست زراعت ننگرهار می‌گویند که در سال ۱۳۹۸ ساحه تحت کشت پیاز یک هزار و ۵۵۳ هکتار است. از این مقدار زمین، ۳۲ هزار و ۶۱۳ تن پیاز تولید شده بود. اما در سال ۱۳۹۹ میزان تولید پیاز به ۳۹ هزار و ۹۷۴ متریک تن رسیده است.

پیاز در تمام ولسوالی‌های ننگرهار کشت می‌گردد و نتیجه خوب نیز داده است. بیش‌تر پیاز ننگرهار مصرف داخلی دارد.

وزارت زراعت با ایجاد سردخانه‌ی پیاز از یک سال بدین‌سو در قسمت حفظ و نگهداری پیاز برای زمین‌داران کمک زیاد کرده است و نگذاشته است که محصولات‌شان فاسد و خراب شود.

شماری از دهقانان از ساخت سردخانه‌های پیاز در این ولایت استقبال کردند و گفتند از این پس دیگر محصولات‌شان را در وقت رفع حاصل به نرخ پایین نمی‌فروشند و نگرانی‌ای از فاسد شدن محصولات‌شان ندارند، در همین حال شماری از زمین‌داران، ضمن تشکر از ساخت سردخانه‌های پیاز توسط وزارت زراعت برای‌شان، خواهان ایجاد سردخانه‌های بیش‌تر پیاز در این ولایت شده‌اند.

خان جان یک تن از زمین‌دران ولسوالی رودات ولایت ننگرهار است. او می‌گوید که هشت جریب زمین دارد و در کنار سایر محصولات، پیاز هم کشت می‌کند. هر سیر (هفت کیلو) پیاز را در بازارهای داخلی ۱۳۰ افغانی می‌فروشد.

لوگر

ساحت کشت پیاز در لوگر پنج درصد افزایش یافته است.

ریاست زراعت ولایت لوگر از افزایش ساحه کشت پیاز در این ولایت خبر داده و می‌گوید که امسال نسبت به سال پار ساحه‌ی کشت پیاز در این ولایت، ۴۰ هکتار زمین زیاده شده است.

عبدالله تسل رییس زراعت ولایت لوگر می‌گوید که حاصلات پیاز نسبت به سال پار در این ولایت کاهش یافته است. او می‌افزاید که نبود بازار دلیل اصلی در کاهش حاصلات پیاز است.

به قول آقا تسل در سال ۱۳۹۹ ساحه تحت کشت پیاز در این ولایت یک هزار و ۱۶۰ هکتار است و از همین مقدار به میزان ۳۶ هزار و ۵۴۰ پیاز تولید شده است.

پیاز در تمام ولسوالی‌های ولایت لوگر کشت و تولید می‌شود. ۷۰ درصد تولیدات پیاز این ولایت به پاکستان صادر می‌گردد و ۳۰ درصد متباقی آن در بازارهای داخلی فروخته می‌شود.

احمد یک تن از زمین‌داران ولسوالی محمدآغه ولایت لوگر است. او می‌گوید که خدا را شکر حاصلات پیاز خوب است و بازار هم دارد. از وزارت زراعت می‌خواهد که در قسمت مارکیت و سردخانه‌های پیاز کمک‌شان کنند.

شاه‌پور یک تن از دهقانان ولسوالی پل علم ولایت لوگر است. او می‌گوید که پنج جریب زمین دارد و سالانه آن را پیاز کشت می‌کند و حاصل خوب نیز می‌گیرد. هر سیر(هفت کیلو) پیاز در بازارهای داخلی در بدل ۱۱۰ افغانی فروخته می‌شود.



فراه

حاصلات پیاز فراه پنج درصد افزایش یافته است.

ریاست زراعت ولایت فراه از افزایش حاصلات پیاز در این ولایت خبر می‌دهد و می‌گوید که نسبت به سال پار پنج درصد در تولیدات پیاز این ولایت افزایش رونما گردیده است.

قدرت‌الله کاکر آمر امور زراعتی ولایت فراه می‌گوید که امسال ساحه کشت پیاز دو هزار و ۴۱۱ هکتار است که از این مقدار به میزان ٦٦ هزار و ٦٧ تن پیاز تولید شده است.

بیش‌ترین پیاز ولایت فراه در ولسوالی‌های پشت‌رود، بالابلوک، بکوا، خاک سفید و مرکز فراه کشت و تولید می‌گردد.

به قول آقا کاکر، پیاز فراه بیش‌تر در بازارهای محلی و ولایت‌های هم‌جوار آن فروخته می‌شود و در گذشته بنا بر شدت گرما و نبود امکانات ذخیره‌سازی پیاز، زیان‌های زیاد برای دهقانان وارد کرده بود که خوش‌بختانه با ایجاد سردخانه‌های پیاز تا یک حدی مشکل فاسد شدن محصولات پیاز دهقانان حل شده است.

شماری از زمین‌داران ولایت فراه از نبود مارکیت و سردخانه‌ها پیاز در این ولایت شکایت می‌کنند و می‌گویند که در وقت رفع حاصل تمام محصولات‌شان فاسد و خراب می‌شود؛ چون سردخانه‌های میوه و پیاز کچالو وجود ندارد و دهقان مجبور است به نرخ ناچیز پیاز را فروشد و به همین ترتیب تربز و خربزه در وقت حاصل به نرخ پایین فروخته می‌شود. از سوی دیگر مسوولان در زراعت ولایت فراه می‌گوید با ساخت سردخانه‌های پیاز، قسمتی از مشکلات زمین‌داران حل خواهد شد و امید است در سال ۱۴۰۰ ذخیره‌گاه‌های پیاز بیش‌تر ساخته شود تا از این مشکلات به در آییم.

محمد عارف یک تن از زمین‌داران ولسوالی پشت‌رود ولایت فراه است. او می‌گوید که در فراه نسبت آب و هوای گرم، بعضی از محصولات نتیجه خوب داده است. حاصلات زیاد است، اما از نبود مارکیت و سردخانه شکایت دارند.

او از وزارت زراعت می‌خواهد که در قسمت بازاریابی برای محصولات و ساخت سردخانه‌ی نگهداری پیاز کمک‌شان کند.

محمد عمر یک تن دهقانان ولسوالی خاک سفید است. او می‌گوید که هفت جریب زمین دارد و پیاز و دیگر محصولات کشت می‌کند. حاصلات آنان همه‌ساله زیاد است، اما بازار ندارد و زیان‌های فراوانی از این ناحیه دیده‌اند.

## درباره پیاز

**پیاز از قدیمی‌ترین سبزی‌ها و ترکاری‌ها در جهان است. خاستگاه اصلی آن افغانستان ذکر شده است. پیاز به خانواده آلیاسه (Alliaceae) متعلق است و گیاهی است دوساله با رشد بوته‌ای ضعیف، برگ‌های استوانه‌ای شکل میان‌خالی که در سال اول با توجه به طول روز مورد نیازش، تشکیل سوخ (Bulb) داده و در سال دوم با کشت سوخ‌ها و پس از ظهور ساقه گل‌دهنده و چترها تولید بذر می‌کند. مهم‌ترین فاکتورهای محیطی مؤثر در تشکیل سوخ درجه حرارت و طول روز است و بر این اساس ارقام پیاز به سه گروه شامل ارقام روز بلند، روز متوسط و روز کوتاه تقسیم‌بندی می‌شوند. اهمیت این موضوع در تعیین زمان مناسب کاشت است. پیاز در طول زمان نه تنها در آشپزی بلکه خاصیت‌های درمانی آن مورد توجه قرار گرفته است.**

پیاز دارای ترکیبات گوگردی، قند، کلسیم، املاح سدیم و پوتاشیم، ید، سیلیس، آهن، فاسفورس و ویتامین‌های A. B. C می‌باشد.

پیاز خام فعالیت معده را زیاد می‌کند و در نتیجه ترشح اسید کلریدریک را شدت می‌بخشد. بنا بر این کسانی‌که ناراحتی معده دارند، ممکن است سوزش و درد در معده خود حس کنند. این‌گونه اشخاص باید پیاز پخته مصرف کنند که ترشحات دستگاه هاضمه را منظم کرده اشتها را زیاد و دل‌درد و نفخ معده را درمان می‌کند. از پیاز به عنوان آنتی‌بیوتیک طبیعی نیز یاد می‌شود.

هفته‌نامه دهقان

صاحب امتیاز: وزارت زراعت، آبیاری و مالداری
(۰۷٦٦٤۰۰٦۰۰ - akbar_rostami۱۰@yahoo.com)
مدیر مسوول: سید نورالعین ۰۷۹۳۴۰۵۵۹۹ - snoorulainn@gmail.com
دبیران: ظفرشاه رویی، جمعه‌گل اشرفی
گزارشگران: گیتی محسنی، شفیق‌الله نوری، شجاع‌الحق نوری
نعیم رضایی، حشمت‌الله حبیبی، مینا افسری
عبدالواسع خان‌زاده، محمد تمیم صدیقی و نور الله پتمن
برگ‌آرا: بشیر رسا

نشانی برقی: Public.relation@mail.gov.af
ویب‌سایت: www.mail.gov.af
فیس‌بوک: وزارت زراعت، آبیاری و مالداری / د کرنې، اوبولګولو او مالدارۍ وزارت
تویتر: @MAIL_AF
شماره‌های تماس: ۰۷٦٦٤۰۰٦۰۰ ۰۷۴۸۰۰۹۱۳۷
آدرس: جمال مینه، کارته سخی، کابل، افغانستان

DEHQAN WEEKLY

STANDARD AGRICULTURE: ACCESS TO GLOBAL MARKET

No: 131 ▪ Dehqan Weekly ▪ Saturday ▪ February 27th ▪ 2021

# د نیالګیو اېښودو او ونو خوندیتوب له ګټو سره اشنا شئ

## هغه څه چې، د نیالګیو اېښودو او د ونو اهمیت په هکله باید پوهشو

لیکواله: طاهره صمدي
ژباړه: جمعه ګل اشرفي

د ځمکې د زرغونو سیمو د کچې ټیټېدا او د ځنګلونو کموالی نه یوازې دا چې، د ځمکې د اکسیجن انډول له منځه وړي، ترڅنګ یې د کاربن ډای اکسایډ د ډېرېدو لامل کېږي او د پراخو اقلیمي بدلونونو ګواښ هم زیاتوي. په دې لیکنه کې د نیالګیو اېښودو او ونو اهمیت ته اشاره کوو. موږ سره ووسئ.

هغه څه چې د نیالګیو اېښودو او د ونو اهمیت په هکله باید پوهشو (دویمه برخه)

ځنګلونه او زرغونې سیمې کولی شي، چې تولید شوي نایتروجن لرونکي عضوي ترکیبات جذب کړي او په ګټورو امینو اسیډونو یې بدل کړي.

### د ونو او نیالګیو اېښودو ګټې

### ۱- د ځنګل اقتصادي ارزښت:

ځنګلي محصولات لکه لرګي او نور فرعي محصولات د نړۍ په کچه د زرګونو کوچنیو او سترو تولیدي واحدونو چرخې په خوزښت راولي، د بېلګې په توګه نیالګي، د صنعت او مدرنو درملو جوړولو د لومړنیو موادو د برابرولو سرچینه ده. د درملو جوړولو لړ تر لړه څه باندې ۲۵ سلنه د اړتیا وړ مواد په نېغه له نیالګیو څخه په لاس راځي.

۲- د صنعتي او درملیزو موادو تولید (فرعي):

په ځنګلونو کې له شته ګیاوو څخه د علوفي د تولید ترڅنګ، څړځایونه او نور محصولات لاسته راځي، چې د درملیزې استفادې او صنعتي (فرعي) او خوراکي موادو په توګه ترې ګټه پورته کېږي. د یادو محصولاتو له ډلې د نمونې په ډول د یوشمېر هغو نمونه دادي: کنګر، ریواس، والک، موسیر، ګلپر، خاکشیر، سماق، خوانسار ګز، د زرشک مېوه، آویشن، سورنجان، ثعلب، د ختمي رېښې او دانې، د کاسني رېښې، د خوږې ولې رېښې، د ګاوزبان ګل، اینجه، مازوج او د کتیرا بېلابېل ډولونه.

### ۳- د خاورې د خوزښت مخنیوی:

په غونډیو کې د نیالګیو وده د خاورې د خوزښت د مخنیوي او د خاورې د پایدارۍ لامل کېږي. کله چې د نیالګیو رېښې په خاوره کې ننوځي د ننه په خاوره کې د پایې په څېر عمل کوي او د متراکمو رېښو د شبکې په جوړېدو سره د خاورې د خوزښت مخه نیسي.

### ۴- د واورې ښویېدو مخنیوی:

نیالګي او ګیاوې ناهموارې سطحې جوړې، چې ورسره د واورې ښویېدو د ګواښ کچه ټیټېږي. په همدې موخه حتا په هغو سیمو کې چې د اسکي سپورټ لپاره ترې ګټه اخیستل کېږي ښه ده، چې هم د سکې سیمې او هم د اسکي له سیمو څخه لوړې سمیې د څړځایونو په څېر په بېلابېلو ګیاوو پیاوړې شي.

### ۵- نظامي اهمیت:

د نظامي او امنیت له نظره ځنګلونه ځانګړې اهمیت لري.

٦- د امنیو اسیډونو تولید:

ځنګلونه او زرغونې سیمې کولی شي، چې تولید شوي نایتروجن لرونکي عضوي ترکیبات جذب کړي او په ګټورو امینو اسیډونو یې بدل کړي.

### ۷- د وړانګو جذب:

د نیالګیو تاج او څانګې د مرئي نور په پرتله ډېر لږ «UVB» منعکسوي، ددې ترڅنګ د اسمان ډېره برخه تر پوښښ لاندې راولي، کوم چې د «UVB» ډېر تشعشعات له همدې لارې ځمکې ته رسېږي. دنیالګیو او ونو سیورې د «UVB» تشعشعات له ۵۵ تر ۸۰ سلنې او مرئي نور له ۸۲ تر ۸۵ سلنې ټیټوي.

### ۸- د خاورو او دوړو جذب:

نیالګي، ونې او ګیاوې د یو ښار د هوا د پاک والي او د خاورو او دوړو د کچې د ټیټېدا لامل کېږي او په دې برخه کې ډېرې اغېزې لري. کله چې د باد په واسطه خاورې او دوړې لېږل کېږي، نیالګي، ونو او ګیاوو سره د تماس په صورت کې د باد سرعت ټیټ او دوړې او خاورې هم په نیالګیو، ونو او ګیاوو کې جذبیږي.

### ۹- د اکسیجن تولید:

د ځمکې د اکسیجن انډول، چې انسانانو ته د ځمکې پر سر د ژوند زمینه برابره کړې ده د ګیاوو، ونو او نیالګیو له لارې د اکسیجن په تولید سره برابره شوې ده. د ځمکې پر سر د زرغون چاپېریال او ځنګلونو د کچې ټېټېدل نه یوازې دا چې د ځمکې د اکسیجن انډول له منځه وړي، ترڅنګ یې د کاربن ډای اکسایډ د ډېرېدا لامل او د پراخو اقلیمي بدلونونو د ګواښ د زیاتوالي لامل هم کېږي.

### ۱۰- د فیټونسیډ تولید:

د چاپېریال ساتنې د کارپوهانو ارزونې ښیي، چې د چهارمغزو، کاج، څېړۍ، اکالیپټوس او یوشمېر نورې ونې د فیټونسیډ په نوم داسې مواد فضا ته خوشې کوي، چې د ډېرو باکتریاوو، یوسلولي قارچونو او یوشمېر نورو وړو حشراتو د وژل کېدو لامل کېږي. په ورته وخت کې د یادو ونو له خوا ددغو موادو تولید په انسانانو کې د ارامتیا او خوښۍ لامل کېږي.

### ۱۱- د اوبو او هوا تعدیل:

نیالګي او ونې په خپل تعریق او تعرق سره د مایکرکلیما د تودوخې د کچې په ټیټولو او د هوا په نسبي رطوبت کې رغنده ونډه لري. د زمري په میاشت کې د یوه هکتار زرغون چاپېریال تودوخه د تش چاپېریال په پرتله چې، ونې په کې نه وي له ۴/۵ درجې څخه ټیټه ده، او په همدې توګه د یو زرغون چاپېریال د ننه نسبي رطوبت له بهرني چاپېریال څخه ۱۱ سلنه زیاته ښودل شوې ده. یادو مواردو ته په کتو ونې، نیالګي او زرغون چاپېریال خلکو ته مناسب فزیکي اسانتیاوې او روحي ارامتیا ور په برخه کوي.

### ۱۲- د غږ د ککړتیا د کچې ټیټول:

د غږ د ککړتیا د کچې ټیټېدل د ونو او



نیالګیو د پاڼو د اندازې، د ښاخونو او پاڼو تراکم او د ونې او نیالګیو لوړوالي پورې تړلې ده او مختلق بدلونونه رامنځته کوي. د غږ د موجونو ارتعاش د ونو او نیالګیو د پاڼو او ښاخونو په واسطه جذبېږي، او حتا نیالګي او ونې د غږ په خپرولو او ماتولو کې هم رغنده رول لري. ګیاوې هم د غږ د انحراف او ماتېدو لامل کېږي. د غږ د سرچینې او د استوګنځیو ترمنځ د زرغون کمربند په کرلو سره کولی شو، چې د غږ د ککړتیا کچه ټیټه کړو او د ککړو غږونو د خپرېدو مخه ونیسو.

### ۱۳- د هوا په بڼه د ګازي ککړتیاوو د کچې ټیټول:

ګیاوې او زرغون چاپېریال د تبخیر له لارې د هوا له پاکوالي سره مرسته کوي. دغه راز ګیاوې د رایحې په ایجادولو سره کولی شي، چې په نېغه بد بوی لرونکي ګازات خنثا او د هوا په پاکولو کې همکاري وکړي.

د ونو پاڼې په هوا کې خاورې او دوړې جذب او زموږ تنفسي هوا پاکوي.

دغه راز نیالګي او ونې د هوا د تودوخې د درجې په اصلاح کولو او د هوا د جریان په بدلولو سره د هوا په پاکوالي کې اغېزه کوي.

### ۱۴- د سربو د کچې ټیټول:

نیالګي او ونې د ښارونو د ککړې هوا د سربو په جذب کې رغنده رول لری او کولی شي، د خلکو استوګنځي او په هغو سیمو کې، چې د انسانانو تمرکز ډېر وي د ککړې هوا د سربو پر وړاندې خوندي کړي. دغه راز ونې او نیالګي د سربو د جذب ترڅنګ د نورو ککړتیاو د جذب په برخه کې له ډلې د اوزون د جذب په برخه کې هم اغېزناکې ونډې لري.

### ۱۵-د نیالګیو او لمر تشعشعات:

د نیالګیو تاج هغه سطحې دي، چې ډېر لږ انعکاسي وړانګې لري او له اوبیزو سیمو وروسته د لمر ډېر وړانګې جذبوي. د لمر وړانګې که مستقیم او یا منعکس شوی وي، د نیالګیو او نو په واسطه د کنټرول وړ دي. نیالګي او ونې د لمر وړانګې جذبوي او د یو مانع په توګه د لمر وړانګې کنټرولوي، چې دا د ونو او نیالګیو له تر ټولو غورو ځانګړنو څخه شمېرل کېږي.

### ۱٦- د تودوخې د درجې تقلیل:

ونې، نیالګي او په ټوله کې ګیاوې د لمر د وړانګې په جذب او د تعریق او تبخیر له لارې کولی شي، چې د هوا د تودوخې د درجې کچه ټیټه کړي.

### ۱۷- د زرغون کمربندونو حفاظتي اغېزې (ژوندي باد ماتوونکي):

له شک پرته په ښارونو، صنعتي سیمو اوهغو سیمو کې، چې ډېر باد ولري زرغون کمربند د هوا د ککړتیا د مخنیوي په برخه کې رغنده رول لري، او په هوا کې د معلقو ذراتو د تصفیې په برخه کې، چې د کارخونو په واسطه او یا په طبیعي ډول د خاورې او دوړې په واسطه رامنځته کېږي د فني تصفیې د لارو چارو په پرتله ډېره غوره لاره ده. دغه راز ونې او نیالګي د بادونو د ماتېدو لامل کېږي، د سرعت کچه یې ټیټوي او مخرب اغېزې یې کموي.

### ۱۸- د سېلابونو مخنیوی:

نیالګي، ونې او په ټوله کې ګیاوې د اوبو په جذبولو سره د تندو سېلابونو د مخنیوي لامل کېږي. ونې او نیالګي د سېلابونو د سرعت کچه درې برابره ټیټوي او د تندو سېلابونو د راوتو مخه نیسي.

### ۱۹- د فون جذب:

په ښارونو کې د زرغون چاپېریال شتون ښارونه طبیعي سیستمونو په لور بیایي او د هغو فونونو د جذب لامل کېږي، چې د ښارونو بې روحه چاپېریال د تحمل وړ ګرځوي.

۲۰- د ټرافیک کنټرول:

په ښارونو کې د زرغون چاپېریال شتون د ټرافیک په کنټرول کې رغنده رول لوبوي.

### ۲۱- د ښار د اقلیم کنټرول:

د اقلیم کنټرول د لمر، باد او باران د اغېزو په تعدیل سره رامنځته کېږي. په هغو سیمو کې، چې نیالګي او ونې دي د هغو سمیو په پرتله چې ونې په کې نه وي د تودوخې درجه ډېره ټیټه کېږي. ونې چې څومره غټې وي دا بدلون لا ډېر زیات وي. تر ونو لاندې د ورځې هوا سړه او په شپه کې ګرمه وي.